# مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ. «چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځاى يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ. «چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځاى يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې.
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې: چا ته چې دوه لوڼې يا خويندې ورپه برخه شي او هغه يې داسې روزنه وکړي چې، لګښت، روزنه، او د خېر لارو ته لارښوونه او له بديو څخه ځان ژغورنه او داسې نور وروښيي تر دې چې سترې شي، نو د قيامت په ورځ به هغه او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لکه د دې دوو ګوتو په څېر يو ځای وي، او خپله مسواکۍ او منځۍ ګوتې يې سره جوختې کړې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3360

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee